# د امام اعظمؒ وصیتونه

تالیف

مولانا عاشق الهی شهر بلندی

ژباړونکی

مولوی عبدالهادی (حماد)

Ketabton.com

احمد شاهی کتبخانه
کابل بازار کندهار
تلیفون :0700321479

د تعلیم الاسلام راډیو ویب پاڼې له خوا:
www.Taleemulislam-Radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تعلیم الاسلام راډیو ویب پاڼې له خوا :
www.Taleemulislam-Radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ﴿١﴾

# دامام اعظم (رحمة الله عليه) وصيتونه

مؤلف : مولانا عاشق الهي شهربلندي

ژباړونکی : مولوي عبدالهادي (حماد)

د تعليم الاسلام راډيو ويب پاڼې له خوا :
www.Taleemulislam-Radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ﴿١﴾

# دمرتب څوخبری

الحمدلله رب العالمین ، والصلوة والسلام علی سیدنااکرم الاولین والآخرین ، وعلی آله واصحابه هداة الحق وناصری الدین المتین ، وعلی من اتبعهم باحسان الی یوم الدین وخذوا حذوهم فی استذکاراثارنبیه الامین ، اوصوا واستوصوا وتواصوا بالحق والصبرفی کل وقت وحین۰

دریښتنی ښکلااوواقعیت دستړواکمن په ګلورین نامه ددي لیکني اوترتیب څخه وړاندي څښتن تعالیٰ ﷻ ته اړبنده د په ګوته سوی بشریت د ځلانده اولوی امام حضرت امام ابوحنیفة «رحمة الله علیه» دغه وصیت دژباړي سره مل لیکلی وو چي ده مبارک ونوموتی عالم حضرت یوسف بن خالد سمتي «رحمة الله علیه» ته فرمایلی وو نوموړي ژباړه داصل ترڅنګ په «ماهنامه البلاغ کراچی» کښي ونشرته وسپارل سوه دغه وصیتونه زما مرشد سپېڅلي شیخ الحدیث «بقیة السلف حجة الخلف» مولانا محمد زکریا صاحب کاندهلوي ثم مهاجرمدني دامت برکاتهم العالیة په خپل مجلس کښي توری په توري واورول اودیر یې خوښ وګڼل بیایې په خپل شخصي لګښت دپنځوزرو دچاپ پریکړه وکړه ددي بهیر سره مل پریکړه وسوه چي دامام ابوحنیفة «رحمة الله علیه» دوه نوروصیتونه چي ونورو شاګردانو ته یې فرمایلي دي هم نشر

(c) ketabton.com: The Digital Library


سي دلتون وروسته د «الاشباه والنظائر» نومي كتاب په پاى كښي يو وصيت وموندل سو چي قاضى القضاة حضرت امام ابويوسف «رحمة الله عليه» ته يې فرمايلي دى خوله بده مرغه ددې ليكني ترلوستني وروسته ځينى ځايونه چاپي غلطياني مخي ته راغلي چي ځيني ځايونه يې دمسخي اوتحريف ويره وه بياهم ددوهمي نسخې لټه روانه ده ترداسي بريده چى په دوونورو كتابونو كښي چي په نامه د «مناقب امام اعظم رح» او«حسن التقاضى» هم پيدا سوه په نومړو دوونسخو كښي هم دصحت له پلوه پياوړي نسخه ترتيب سوه اودمحاورې سره وژباړل سوه دعاجزبنده په ذهن كښي يوخه راوړاندي سوه چي هغه دامام صاحب «رحمة الله عليه» دوصيت څخه چي خپل زوى ته يې كړى دى عبارت دى ددغه وصيت لټه يې پيل كړه چي په نتيجه كښي الحمدلله دغه نسخه هم پيداسوه . هم داډول په «مناقب امام اعظم رح» كښي دقاضى ابوعصمة ، نوح بن ابي مريم مروزي «رحمة الله عليه» په نامه يې هم يو وصيت ترنظر تيرسو چي په قضائى چارو پورى اړه لري يو بل وصيت چي امام صاحب «رحمة الله عليه» وخپلو مخورو شاگردانو ته فرمايلى دى هم لاسته راغلي عاجزبنده دغه ټول وصيتونه دمحاورې ترڅنگ وژباړل اودحضرت اقدس مرشدي دامت بركاته په حضور كښي يې وړاندي كړل حضرت والا دغه ټول وصيتونه ديو ټولگي په ډول دنشر او طبعي امر وكړى او د «وصايا امام اعظم» په نامه يې ونومول اوددغه پنځو وصيتونو لړۍ جاري سوه

(c) ketabton.com: The Digital Library


چي دکتونکو په لاسو کښي ترسترګو کیږي چي ترتیب یې په لاندي ډول دی

**لومړی وصیت** : دامام ابویوسف( رحمة الله علیه )په نامه دی .

**دوهم وصیت** : دامام یوسف بن خالد سمتي (رحمة الله علیه )په نامه دی .

**دریم وصیت** : دحماد بن ابي حنیفه( رحمة الله علیه) په نامه دی .

**څلورم وصیت** : دابوعصمة نوح بن ابي مریم( رحمة الله علیه) په نامه دی .

**پنځم وصیت** : دامام اعظم (رحمة الله علیه) دمخورو اومشهورو شاګردانو په نامه‌دی .

## دامام اعظم (رحمة الله علیه ) دځینو شاګردانو احوال :

### حضرت امام ابویوسف (رحمة الله علیه )

حضرت امام ابویوسف (رحمة الله علیه) دامام صاحب (رحمة الله علیه ) ترټولو مشهور شاګرد وو چي پر حدیثو اوفقه شریفه باندي په پوره ډول برلاسی وو، حضرت امام احمدبن حنبل (رحمة الله علیه) هم دده دشاګردانو څخه دی ، اونوموړی (رحمة الله علیه ) دامام ابویو سف ( رحمة الله علیه) څخه تر درو کالو پوري زده کړي کړي دي ، امام ابویوسف ( رحمة الله علیه) نه یوازی چي قاضي وو بلکي قاضی القضاة هم وو اوپه دغه لقب باندي دی مبارک ترټولو وړاندي مشهور سوی دی ، اودعباسي خلیفګانو په لړ کښي یې د مهدی ، هادی ، اوهارون الرشید دواکمنیو پرمهال دقضا چوپړ

(c) ketabton.com: The Digital Library


ترسره کړی دی اودسنه هجري ۱۲۲ قمری څخه نیولی بیا دژوند دپای ترشیبو پوري قاضی وو.

امام ابویوسف (رحمة الله علیه) دامام اعظم (رحمة الله علیه) وخدمت ته اوولس کاله دپابیندی، سره مل په مسلسل ډول حاضری ورکړی ده آن ترددې چي یو وخت یې زوی وفات سوی وو. بیاهم ده مبارک پدې موخه چي دامام اعظم (رحمة الله علیه) مجلس ځینی ناغه نسي دخپل زوی په دفن کښي اشتراک ونه کړی اودخپل زوی تکفین اوتجهیز یې ذوستانو ، قریبانو ، اوهمسایګانو ته پریښودی اوخپله دامام اعظم (رحمة الله علیه) په مجلس کښي حاضرسو ، حضرت امام ابوحنیفة (رحمة الله علیه) نه یوازي چي امام ابو یوسف (رحمة الله علیه) ته پوهه وربخښلی وه بلکي مالي مرستي یې هم ورسره کولی ، دداؤد بن رشید وینا ده چي وايي : که چیري دامام اعظم (رحمة الله علیه) یوازي امام ابویوسف (رحمة الله علیه) شاګرد وای بیاهم دده دویاړ لپاره دایو شاګرد بس وو ، اوکه دامام ابویوسف (رحمة الله علیه) علمي خبرو ته وکتل سي څرګندیږي چي نوموړی دپوهي دریاب دی اوپه لپو اوبه ځنیی اخستل کیږي ، حدیث ، فقه ، اوکلام ترټولو زیات دده په وړاندي وه ، یوځل امام ابویوسف (رحمة الله علیه) ناروغ وو دپوښتني په موخه امام اعظم (رحمة الله علیه) ورته تشریف راوړی دپوښتني څخه وروسته چی امام صاحب دباندي راووتی وې فرمایل : که چیری دغه ځوان وفات سي نودعلم لپاره لویه ضایعه ده ځکه چي دی پرمځکه ترټولو اوسیدونکو ستر عالم دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


علی بن صالح (رحمة الله علیه) چي به امام ابویوسف (رحمة الله علیه) څخه روایت کاوه نوده مبارک به امام ابویوسف (رحمة الله علیه) په افقه الفقهآء ، قاضی القضاة ، اوسیدالعلماء لقبونو سره یاداوه اوفرمایل به یې :

حدثنی افقه الفقهآء وقاضی القضاة وسیدالعلماء ،

حضرت امام ابویوسف (رحمة الله علیه) د سنه هجري قمري ۱۶۶ څخه بیا تر (۱۸۲ ) هجري قمري سنې پوري قاضي وو چي همدا دده دمړیني کال دی نوموړي په دې لویه مده کښي دستر عدل اوانصاف سره مل فیصلې کړي دي اوفرمایلي یې دي چي ما هیڅ دظلم فیصله نده کړي مگر یوځل چي دمؤاخذې څخه یې په ویره کښي یم هغه دا وه یوه ورځ یونصراني سړی په هارون الرشید باندي دعوه وکړه چي امیرالمؤمنین زما فلانکی جایداد قبضه کړی دی دغه دوسیه پیل سوه ما هارون الرشید ته وویل چي دغه سړی په تا دعوه کوي وایي تا دده مځکه قبضه کړي ده هارون الرشید په جواب کښي راته وویل چي دغه مځکه ماته دخپل نیکه منصورڅخه راپاته ده نصراني ته مي وویل چي دامیرالمؤمنین جواب خو دي واوریدی ته شاهدان لری ؟ نصراني په جواب کښي راته وویل شاهدان نسته مگر مدعی علیه دي قسم واخلي هارون الرشید ته مي وویل چي قسم اخستلای سی ؟ هارون الرشید قسم واخستی اودوسیه خلاصه سوه نصراني ولاړی نو زه ددغه دوسیې په ویره کښي یم چی الله ﷻ ته مسئول نسم یوشاگرد ورته وویل اې استاذه ! پدې موضوع کښي دمؤاخذې ویره په چشي

(c) ketabton.com: The Digital Library


کښني ده ؟ ده مبارک وفرمایل : دغه دوه کسان چي یو نصراني وو بل امیرالمؤمنین وو دمحاکمې پرمهال یوځای نه وه بلکي هارون الرشید پر یوممتاز ځای ناست وو اونصراني دنورو مدعیانو په څیر پر یو ساده ځای ناست وو ( یعنی ماته ښکاروه چې هارون الرشید می هم راکښته کړی وای دعامو مدعیانو په څیرمی درولی وای ) .

حضرت امام ابویوسف(رحمة الله علیه)لوی عابد وو ځکه دقضا دتولو بوختیاوو ترڅنګ یې هره ورځ دوه سوه رکعته نفل کول او په زیاته کچه یې روژې نیولی امام ابي یوسف (رحمة الله علیه)دنسب له پلوه دمدینې منورې دانصارو دکورنۍ سره اړه لري دده دنیکه نوم (سعد بن بحیر) صحابی ووچي (سعد بن حبته) هم ورته ویل سوي دي ( حبته یې دمورنوم وو ) نوموړي دتنکۍ ځوانۍ پرمهال دښه جنګیالي په توګه دخندق په غزا کښني ونډه واخستله رسول الله ﷺ چي کله دی ولیدی چي په پوره مېړانه یې جنګ کاوه نوبلنه یې ورکړه او ورته وې فرمایل : ځوانه ته څوک یې ؟ ده مبارک په جواب کښی ورته وویل زه سعد بن حبته یم حضور ﷺ ورته دعا وکړه چي الله ﷻ دي ستا نصیب مبارک کړي او دنژدې کیدو امر یې ورته وکړی کله چي ورته رانژدې سو مبارک ﷺ یې پرسر لاس ورتیر کړی ( دغه حکایت الاستیعاب لیکلی دی ) .

حضرت امام ابویوسف (رحمة الله علیه) فرمائی : رسول الله ﷺ چي زما دنیکه پرسر لاس تیر کړی دی برکت یې تراوسه په کورنی

(c) ketabton.com: The Digital Library


هلته وفات سوی دی اواولادونه یې په کوفه کښې دژوند شپې صبا کوي په ډوی کښې یو ځلانده سهارابویوسف (رحمة الله علیه) وځلیدی چي تر ختیزه اولویدیزه پوري یې علم ورساوه دامام ابویوسف(رحمة الله علیه) دوفات نېټه (۱۸۲) هجري قمري ښودل سوی ده اودولادت نېټه یې ۱۱۳ سنه مشهوره سوی ده مگر شیخ محمد زاهد کوثري (رحمة الله علیه) فرمایلی دی : چي دده مبارک دولادت نېټه ۹۳هجري قمري ده همدا روایت خیرړل سوی اودتائید وړدی.

## حضرت یوسف بن خالد سمتي رحمة الله علیه)

حضرت یوسف بن خالدسمتي (رحمة الله تعالی علیه) دامام ابوحنیفة (رحمة الله علیه) د مشهورو شاگردانو څخه دی اصلی وطن یې بصره ده دامام اعظم(رحمة الله علیه)څخه دزده کړې اوخدمت په موخه دبصرې څخه کوفې ته راغلی وو د زده کړې وروسته یې د بیرته تللو هوډ وکړی خو امام اعظم(رحمة الله علیه)ورته وفرمایل : په تلو کښې بیړه مکوه زه تاته دتوښې په توگه څه نصیحتونه کوم ده مبارک وخت ورته بیل کړی امام اعظم(رحمة الله علیه)وصیتونه ورته وکړل چي په همدې رساله کښې راوړل سوی دي دغه وصیتونه دخپلو ځانگړتیاوو سره دعلماؤ اوطالبانو لپاره دځان ساتني وړدي.

دهدایې د مؤلف مشهور شاگرد علامه زرنوجی(رحمة الله علیه) په خپل کتاب (تعلیم المتعلم) کښې داسي لیکلي دي :

(c) ketabton.com: The Digital Library


وينبغى لطالب العلم ان يحصل كتاب الوصية كتبها ابوحنيفه «رحمة الله عليه» ليوسف ابن خالد سمتى «رحمة الله عليه» عندالرجوع الى اهله ، وقد كان استاذنا شيخ الاسلام على بن ابى بكر «رحمة الله عليه» امرنى بكتابته عندالرجوع الى بلدى ولابد للمدرس والمفتى فى معاملات الناس منه .

**ژباړه** : هرزدکړی ( طالب ) ته ښايي چي هغه وصيت نامه لاس ته راوړي چی امام اعظم «رحمة الله عليه» ويوسف بن خالد «رحمة الله عليه» ته وکورته دتللو پرمهال کړی دي . زموږ استاذ شيخ الاسلام علی بن ابي بکر ماته وخپل ښارته دتللو پرمهال امروکړی چی دغه وصيت نامه وليکم اودخلگو سره په روزنيز ژوندانه کښي دخلگو سره په معاملاتو ترسره کولو کښي ، ښوونکی ( مدرس ) اومذهبی پريکړه کوونکی ( مفتی ) ته دغه وصيت نامه اړينه ده .

حضرت يوسف بن خالد دامام شافعی «رحمة الله عليه» داستاذانو څخه دی اوامام شافعی «رحمة الله عليه» دده په اړه داسی فرمايی : رجلا من الخيار .

يعنی دی دغوره وګړو څخه دامت دی . دمحدث ابن ماجة څخه روايت دی چي يوسف خالد ته لدې امله سمتی ويل سوی دی چی سمتی وسمت ته منسوب دی اوسمت طرف ( څانګه ) ته ويل کيږی اودی هم دښکلی لوری څښتن اودښکلو اخلاقو څښتن وو .

نوموړي په سنه ۱۷۹ هجري قمري کي ددې فانی نړۍ څخه مخه ښه کړی ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library


## حضرت حماد بن ابی حنیفه (رحمة الله تعالی علیهما)

حضرت حماد بن ابي حنيفة(رحمة الله تعالی علیهما) دامام ابوحنیفة (رحمة الله علیه) یوازنی زوی دی چي دخپل سپېڅلی پلار څخه يې دفقه زده کړي کړي دي اوپه پوره پیمانه دسپېڅلتیا اوتقوی سره مل وو او تریو وخته په کوفه کښی قاضی هم وو.

## حضرت ابوعصمه نوح بن ابی مریم (رحمة الله تعالی علیه)

حضرت نوح بن ابی مریم هم دامام ابوحنیفة (رحمة الله علیه) دمخورو شاگردانو څخه وو چي دمرو نومي ځای اوسیدونکی وو او ابوعصمه يې دکنیت نوم وو او دالجامع په لقب سره یادسوی دی. امام ابوحنیفة(رحمة الله علیه) تل په قضائی مسائلو کښی پوښتی. یوه ورځ امام اعظم (رحمة الله علیه) ورته وفرمایل هرو مرو به ته دقضا دروازه وټکوي همداسي وسوه په خپل وطن کښي قاضی سو امام اعظم (رحمة الله علیه) ده مبارک ته ځیني وصیتونه چي دقضا اړوند وه دخط په واسطه ولیږل چي پدې رساله کښي راوړل سوی دي. حضرت نوح بن ابي مریم ته دعلومو دجمعي له امله جامع العلوم ویل سوی دی. نوموړي څلور مجلسونه درلودل چي لومړی مجلس يې دحدیثو وو، دوهم مجلس يې دامام اعظم (رحمة الله علیه) دارشاداتو بیانول وو ، دریم مجلس يې دنحو وو، اوڅلورم مجلس يې دشعر اوادب په اړه وو. ده مبارک دامام اعظم (رحمة الله علیه)ترڅنگ دقاضي ابن ابی لیلی څخه هم زده کړي کړي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


پنځم وصیت چي پدي کتاب کښی راوړل سوی دی دامام اعظم (رحمة الله علیه) دمشهورو شاگردانو په نامه دی چي روایت کوونکی یې امام یوسف (رحمة الله علیه) دی اوفرمایی : په یوه بارانی ورځ کښي موږ څو ملگري دامام اعظم (رحمة الله علیه) وخدمت ته حاضرسو چي زموږ په ډله کښي داؤد طائی رح، عافیة اودی رح ، قاسم بن معن مسعودی رح ، حفص بن غیاث نخعی رح ، وکیع بن الجراح رح ، مالک بن مغول رح ، زفربن هزیل (رحمة الله علیهم ) موجود وه امام اعظم (رحمة الله علیه) زموږ لوري ته متوجه سو او وی فرمایل : انتم مسار قلبی الخ.

دغه وصیت ددې ټولگی په آخر کښی راوړل سوی دی دنوموړو وصیتو دروښانتیا په موخه عاجز بنده ځینی ځایونه ځینی ویناوی دقوسو یه منځ کښي راوړي دي اودخپل لوری یې په وریښموباندی ټاټ ( کم قیمته رخت ) پیوند کړی دی له دې امله چي عام خلگ دلفظ دظاهري بڼي څخه غلطه افاده ونه کړی.

الله ﷻ ته دعاکوم چي دغه چوپړ دقبولیت په لورونه ونازوي او دحضرت اقدس مرشدي دامت برکاتهم سایه پرخلگوباندي تر ډیره وخته ودانه ولری.

انه سمیع قریب ولدعاء مجیب و صلی الله تعالی خیر خلقه سیدناومولانا محمد وآله واصحابه اجمعین

المدینه المنوره دصفري لومړی سنه ۱۳۹۹ وانا العبد المحتاج الي رحمة الله محمد عاشق الهي بلندشهري عفي الله عنه وعافاه وجعل اخرته خیرا من اولاه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دکتاب پیل

# دامام ابوحنیفة رحمة الله علیه وصیت خپل شاگرد ابویوسف (رحمة الله علیه) ته

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ ﴿۱﴾

## نحمده ونصلی علی رسوله الکریم

**لومړی** : دحضرت امام ابوحنیفة (رحمة الله علیه) څخه روایت سوی دی چې ده مبارک (خپل شاگرد) ابویوسف (رحمة الله علیه) ته (هغه وخت) وصیت وکړی چې دابویوسف (رحمة الله علیه) له لوری څخه ده مبارک ته پوهه ، نیک اخلاق اوبرلاسی پرعلم باندی ښکاره سوه او وې فرمایل : اې یعقوبه ! (۱) درنښت دپاچا کوه مقام یې لوړ گڼه اوپه حضور کښی یې ددرواغ ویلو څخه ځان ژغوره.( باچاته ) ته په هر وخت اوهر مهال مه ورځه ترڅو چې یې دیو علمی اړتیا لپاره بلنه نوی درکړی (د باچا دډیرتگ څخه لاس پرسر سه ) ځکه که دی بوختیا ورسره ډیره سی بې عزتي دي کوي اومقا م دي دده په وړاندی راټیټیږی داسي ورسره واوسیږه لکه داوره سره چي اوسیږي گټه ځني اخله اولیری ځني اوسه مه ورنژدي کیږه ځکه تا سوځي اوتاوان ځني اخلی ځکه پاچا چي دکوم عزت لټه ځان لره کوي نورو ته یې نکوي .

---

(۱) یعقوب دابویوسف (رحمة الله علیه) نوم دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library


**دریم** : دپاچا په وړاندي دډيرو خبرو کولو څخه ځان وژغوره ځکه چي دی ستا ويناوی څيړي ددې لپاره چي انډيوالانو ته ژبنيي چي دی تر تا پوه دی ستا غلطيانی په ګوته کوي چي دخپل قوم په سترګو کښي دي ټيټ وښيي .

**څلورم** : کله چي پاچا ته ورځي دځان ددرنښت تر څنګ دنورو درنښت هم وپيژنه .

**پنځم** : پاچاته پر داسي مهال مه ورځه چي په وړاندی يې داسي پوهان ناست وي چي تا نه پيژني ځکه که ( دپوهي په ډګر کښي تردوی ) ټيټ يې ښايی چي تا وځوروی او که په پوهه کښي تردوی پياوړی يې ښايی چي ( په خبروکي ) تا ټيټ کړي اوله دې امله دپاچا دسترګو وغورځی .

**شپږم** : کله چي پاچا د دولتي کارونو څخه ( ديوکار ) وړانديز درته وکړي ترهغه بريده يې مه قبلوه ترڅو ستا ، ستا دمذهب او ستا دمسلک قضا رضا نه وي پکښي نغښتي ددې لپاره چي په دولتي چارو کښي دپرديو دمذهب وکړني ته اړنسي .

**اووم** : دپاچا ددوستانو اوانډيوالانو سره اړيکي مه لره بلکي يوازی ده ته نژدې کيږه .

**اتم** : دپاچا دانډيوالانو څخه ليري اوسه چي مرتبه او درنښت دي دتل لپاره پاته سي .

**نهم** : دعامو خلګو په وړاندي خبري مه کوه ترڅو چي يې پوښتنه نوي درڅخه کړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لسم** : ( دعامو خلگوسره ) په دنيوي چارو اوتجارت کښي دخبرو کولو څخه ځان وساته دهغه خبرو پرته چي په پوهه ( علم ) پوري اړه لري ددې لپاره چي پوه نسي چي ستا مينه دمال سره ده ځکه دوی پرتا بد گمان کوي اوپدې باور کوي چي ستا مينه درشوت اخيستلو سره ده اودې لوري ته لاس خلاصوې.

**يوو لسم** : دعامو خلگو په وړاندي لويه لوو ړه خندامکوه.

دولسم :دبازار دډيرتللو څخه ډډه وکړه.

**ديارلسم** : ( دځوانو ) لغړزنو هلکوانوسره خبري مکوه ځکه چي فتنه ده(يعنی دگناه کولو ويره ده ) دوړو کوچنيانو سره خبري کول اوپر سرلاس ورتېرول پروانلري.

**څوارلسم** : دبې علمه سپين ږيرو سره دلاري په منځ کښي مه ځه ځکه که دلاري په اوږدو کښي دوی مخکي کړي ته وروسته سي دعلم بې عزتي دي کيږي اوکه ته مخکي سي ستا تاوان دي ( ځکه رسول اللهﷺ دسپين ږيرو عزت لازم بللی دی ) او فرمايي : څوک چي زموږ دمشرانو احترام نکوي اوپرماشومانو مو رحم نکوي زموږ دډلي څخه ندی.

**پنځلسم** : پرلارو باندي ( دناسمو خلگوپه څير ) مه کښينه که دي (دکوردناستي پرته ) اړتيا ورته پيداسوه نو په مسجد کښي کښينه.

**شپاړسم** : پردوکانونو باندي مه کښينه.

**اولسم** : په بازارو اومسجدو کښي خوراک مه کوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**اتلسم** : پرلارو باندې دخيرات شربتان مه چيښه اومه ئې دلاسوڅخه دخيرات وركوونكو چيښه .
**نولسم** : گران قيمته جامې ، دښكلا شيان اووريښم مه استعمالوه ځكه چي پايلي يې كبر اولويي ده .
**شلم** : په خپل كور كي دخپلي ميرمني سره دارتيا پرته خبري مه كوه مگر دارتيا په پيمانه يې كوه .
**يوويشتم** : دميرمنې سره ډيري لوبي اولاس وروړل مكوه .
**دوه ويشتم** : دخپلي ميرمني سره نژديكت مه كوه مگر هغه وخت چي دالله ﷻ ذكروكړي اودخير لته پكښي وكړي .
**دريشتم** : دخپلي ميرمني په وړاندي دپرديو ښځو او مينځيانو خبري مكوه ځكه چي پداسي صورت كښي داپه خبرو كښې ازادي ترلاسه كوي ښايي چي ته دنورو ښځوخبري وكړي دابه دپرديو نارينوو خبري درته وكړي ( چي ډيره بده خبره ده )
**څلورويشتم** : دداسي ښځي سره واده مكوه چي كونډه وي پلار يا مور ولري ( يادزاړه مېړه څخه ) زوى يا لور ولري مگر په دې شرط سره چي دقريبانو پرته به څوك نه ورته راځي ځكه كه ښځه شتمنه وي دپلار دبلني پرمهال ادعاء كوي چي ټوله شته ددې دي اومېړه ته يې دخواست په ډول وركړي دي .
**پنځويشتم** : دوس تربريده دخوابښي اوخسر كورته مه ورځه ( يعني دشرعي عذر پرته ) .

(c) ketabton.com: The Digital Library


**شپږویشتم** : دخوابښي اوخسر په کور کښې میلمستیا ته زړه مه ښه کوه ځکه چې مال درڅخه اخلي اوطمعه یې درته ډیرېږي .

**اوه ویشتم** : دداسي ښځي دواده کولو څخه ډډه وکړه چې زامن اولوڼي دزاړه میړه څخه ولري ځکه دا خپل مالونه دهغه اولادو لپاره ذخیره کوي اوستا دمالوڅخه یې غلاکوي دوی ته یې ورکوي ځکه زوی تر تا ورته محبوب دی .

**اتویشتم** : دوې میرمني (ماینې) په یوه سرای کښې مه سره یوځای کوه

**نهه ویشتم** : ترهغه وخته واده مکوه ترڅو چې دي باور نوی راغلی چې دواده ټولي اړتیاوي پوره کولای سم .

**دیرشم** : لومړی دعلم لټه کوه بیا حلال مال سره یوځای کړه په دریم قدم کښې په واده کولو بوخت سه ځکه که دمال په لټه بوخت سي دمینځو او مریانو رانیولو ته دي رابولی اوپه دنیا دي مشغوله کوي تر زده کړي وړاندي واده مکوه ځکه چې وخت دي ضائع کیږي اولادونه دي ډیریږي او داړتیا دپوره کولو لپاره یې اړکیږي په نتیجه کښې علم او مال دواړه درڅخه پاتیږي .

**یودیرشم** : دځوانۍ په پیل کښې په علم بوخت سه چې زړه دي دنورو بوختیاوو څخه خلاص وي بیا دمال دیوځای کولو لټه کوه ځکه ډیرشغل دمال ، اولاد زړه پراګنده کوي کله چې دي مال جمعه کړی نو واده وکړه اوداسي ژوند ورسره وکړه لکه چې می درته وویل.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**دوديرشم** : داللهﷻ ښځه ويره ، دامانت اداكول اونصيحت عامواوخاصو ته كول پرتا لازم دي.

**درودیرشم** : دخلګو درنښت تر ښو مه لاندي کوه بلکي درنښت يې کوه ډيره ګذاره مه ورسره کوه که دوی ګذاره کول غواړي نودیني مسائلی ورته بیانوه ترداسي بریده که څوک دعلم ښنتن وي اوپه علم بوخت وي اوکه دعلم ښنتن نوي (یعنی دعلم سره مینه نه لری) ځان درښخه ژغوري.

**څلورديرشم** : وعامو خلګو ته (بي علمو خلګو ته) د دين داصولو دبيانولو څخه ځان وساته چي په علم كلام پوري اړه لرى ځكه دوی داسي ډله ده چي ستا تقليد كوي اوپه دې اصولو سره مشغوله كيږي (پايلي يې بدي دي).

**پنځمه ديرشم** : كه څوک ديومسئلې پوښتنه درښخه وكړي نودومري جواب ور كوه چي سوال يې درښخه كړی وي نورښه په جواب كي مه ورسره زياته وه ځكه جواب ځني وركيږي.

**شپږديرشم** : كه لس كاله دكار اوكسب څخه بې برخي سي (دناداری له امله) دعلم څخه مخ مه اړوه ځكه كه دي مخ واړوی دناداری سره به مل سي ځكه اللهﷻ فرمايي : چا كه زما دذكرڅخه مخ واړوی بېشكه دتنګ ژوند ښنتن به سي.

**اووه ديرشم** : څوک چي ستا څخه پوهه ترلاسه كوي داسي يې ګڼه لكه ستا زوی يا اولاد چي وي پدې موخه چي مينه يې دعلم سره زياته سی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**اته دیرشم** : دعامواوښاري خلګوڅخه که څوک ستا سره اختلاف کول غواړی ( یعنی په مذهبي چارو کښي دلائل ویل غواړي ) نو ته اختلاف مه ورسره کوه ځکه چي ددوی سره اختلاف کول ستا دمخ اوبه بیایي (یعنی بې عزته کوي دي ). اختلاف کول ستا دمخ اوبه بیایي (یعنی بې عزته کوي دي ).

**نهه دیرشم** : دحق په ویلو کښي دچا دجاه اوجلال پروا مه کوه که څه هم پاچا وي.

**څلویښتم** : خپل ځان پدې مه راضي کوه چي ترنورو کم عبادت وکړي (یعني ترعاموخلګوډیرعبادت کوه ) ځکه چي عام خلګ ستا برلاسی پرعبادت نه وینی ترهغه عبادت چی دوی یې کوي نوپرتا باندي دبدي اود لږمینی دعبادت سره باورکوي اوپردې عقیده وي چي ستا علم تاته ګټه اوفائده نده کړي مګرهغه ګټه چي دوی ته دي رسولي ده ددوی دجهل په اړه.

**یوڅلویښتم** : کله چي یوښارته ورسي په دې ښار کښي نور علماء موجود وي نودځان لپاره لوړ مقام مه لټوه بلکي داسی واوسه لکه یوددوی څخه ددې لپاره چي دوی پوه سي چي ستا مقصد ددوی عزت لمنځه وړل ندي که داسي ونه کړي دوی به په اتفاقی ډول درباندي راجمعه سي او ستا کرنلاره به بدنامه کړي اوعام خلګ به هم درباندی راووزي اوتیز،تیزبه درته ګوري (په پایله کښی به ) بې ځایه اوبې فائدې بدنامه سی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**دوځلوینتم** : ‹ دعلماؤ په شتون کښې› فتوی مه ورکوه که څه هم دفتوی طلب درڅخه وکړي ‹دعلماؤ سره › علمی مقابله ‹رد قدح › مکوه .

**دروځلوینتم** : ددوی په وړاندي هیڅ مه وایه ترڅو چي یوښکاره دلیل نوي درسره.

**څلورځلوینتم** : ددوی پراستاذانو باندي بد مه وایه ځکه الله ﷻ فرمایی : تاسو ښکنځل مه کوی هغه کسانو ته چي دالله ﷻ پرته بل چاته عبادت کوی نودوی به هم الله ﷻ ته ښکنځل کوي تیری به وکړی د ناپوهی له امله.

**پنځه ځلوینتم** : دخلگوسره پرحذراوسه ‹یعني په راکړه ورکړه کښي دهوکه مه ورسره کوه بلکی محتاط ورسره اوسه › .

**شپږځلوینتم** : دالله ﷻ سره په پټه داسي اوسه ‹ یعنی عبادت کوه › لکه په ښکاره چي یې کوی ‹یعنی دخلگوپه وړاندي › دعلم هیڅ کار صیح نه دی ترڅوچي باطن یې دظاهر سره برابرنوي .

**اووه ځلوینتم** : که پاچا یوکار درته وسپاری، چي ته یې وړتیا لري ترڅو چی دي باورنوی راغلی که یې زه قبول نه کړم زما پرته یې یو بل ‹ نااهله › څوک قبلوي خلگوته تاوان رسوي اوپډې پوه سي چي دغه سپارل زما دعلم لکبله دی .

**اته ځلوینتم** : دمناظرې په مجلس کښي ‹ چي شرعا روا نه وي › دویري اومرعوبیت سره مل خبري مه کوه ځکه داسي خبري دزړه

(c) ketabton.com: The Digital Library


دخبروپه ښکاره کولو کښي نقص پیداکوي اود ژبي بندیز پیداکوی.

**نهه څلویښتم**: دډیري خنداکولو څخه ځان وژغوره ځکه چي ډیره خندا زړه وژني.

**پنځوسم**: دښځوسره ډیري خبري اوناسته اوولاړه مه کوه ځکه زړه وژني.

**یوپنځوسم**: په ارامتیا اوسکون سره رفتارکوه په کارونوکښي تلوارمکوه.

**دوپنځوسم**: که څوک دشا دخوا نعره درپسي وکړي جواب مه ورکوه ځکه په حیوانانو پسي دشا دخوا رږغ کیږي.

**دروپنځوسم**: کله چي خبري کوي (په خبروکي) ډېري ناري مه وهه اوازمه پورته کوه.

**څلورپنځوسم**: دځان لپاره ارامتیا اولږښوریدل عادت وگرځوه ددې لپاره چي دخلگوپه وړاندي دي دپوهي مقام څرگندسي.

**پنځه پنځوسم**: دخلگوپه منځ کښي دالله ﷻ ذکرډیر کوه ددې لپاره چي خلگ ستا څخه ذکر ازده کړي.

**شپږ پنځوسم**: دځان لپاره یو(ځانگړی) ورد (ذکر) وټاکه چي قرآن پکښي لولی دالله ﷻ ذکرپکښي کوي اوشکروایي پرهغه څه باندی چی دصبربلنه یې درکړی ده اونعمتونه یې در کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**اووه پنځوسم** : دځان لپاره په هره میاشت کښي خاصی ورځي وټاکه چي روژه پکښي ونیسي ترڅوخلگ ( په روژه نیولو کښي ) ستا تقلید وکړي په هغه عبادت مه راضي کیږه ( یعني بسنه مه کوه ) کوم چي عام خلگ په راضي وي ( یعني ترعامو خلگوعبادت ډیر کوه ).

**اته پنځوسم** : دځان ساتنه کوه (په دې موخه چي بي گټی کارونه اوگناه درڅخه ونسي اودنورو ساتنه کوه چي ستا ددنیا اوآخرت (کارونه ووینی ) ستا دعلم څخه گټه واخلي.

**نهه پنځوسم** : خپله (په بازار کښي) رانیول اوخرڅول مه کوه بلکي یوداسي څوک وټاکه چي ستا کارونه په ښه توگه تر سره کړي اوپرتا باندي اعتماد وي.

**شپیتم** : ددنیا په ټولو چاروکښي چي ته پکښی راشکیل یې ډاډه مه اوسه (یعنی دافکرمه کوه چي زما ټولي کړني ریښتنی دي (ځکه دنفس اوشیطان ویره سته) بېشکه الله ﷻ دټولو شیانوپوښتنه کوي

**یوشپیتم** : لغړزني مریان مه رانیسه.

**دوشپیتم** : که څه هم دپاچا سره نژدې اړیکی ولری (خوخلگوته ) یې مه ښیه چي زه دپاچاسره نژدې اړیکي لرم ځکه چي بیا خپل کارونه ستا دغاړي کوي نوکه چیري یې کارونه ورپوره کړي سپکاوی دي کوي که یې ورپوره نکړي عیب داره کوي دي.

تعلیم الاسلام ویب پاڼه :
www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library


**دروشپیتم** : ځان دعامومسلمانانو په څیزګنه مګرپه خپل مسلک کښې چې دعلم څخه عبارت دی ( یعنی دعلم په اړه خپل مسئولیت زیات ګڼه ).

**څلورشپیتم** : دخلګوپه ناسمو کارونو کښې تقلید مکوه بلکي په غوره کارونو کښې يې تقلید کوه.

**پنځه شپیتم** : که دي په یوانسان کښې بدي ولیدل مه يې بیانوه بلکي دخیرلته ورته کوه په خیر يې یاد کړه مګر بدي يې په دیني چاروکښې وه خلګو ته وښیه ددې لپاره چي خلګ يې تقلید ونه کړی اوځان ځني و ژغوری ځکه رسول اللهﷺ فرمایي : دفاجر انسان بدي بیان کړی ددې لپاره چي خلګ ځان ځني وژغوری .

**شپږشپیتم** : که دي دلوړمقام د ښتن څخه دیني نیمګړتیا ولیده ورته بیان يې کړه دلوړمقام اومرتبې پروا يې مه کوه ځکه اللهﷻ دي مرسته کوونکی اومددګار دی که دي یوځل دغه کاروکړی دوی درڅخه ویریږی هیڅوک دلاوری نسي کولای چي ستا په وړاندی اویا ستا په ښار کښې بدعة ( غیرشرعی کار ) ښکاره کړي وداسي کارته عوام خلګ وهڅوه ترڅوخلګ ددین په زیا ر کښې ستا تقلید وکړی.

**اوه شپیتم** : که دي دپاچا څخه داسي کار ولیدی چي دعلم، پوهي سره برابرنه وو ورپه ګوته يې کړه په داسي حال کښې چي ته يې فرمانبردار يې ځکه دپاچا توان ستا ترتوان ډیردی اوورته ووایه : په هغه څه چي ته برلاسی يې زه دي فرمانبردار یم خوځیني کړني

(c) ketabton.com: The Digital Library


دي دپوهي سره برابري ندي کله چي دي داکاروکړی نویو ځل بس دی ځکه که په تکرار سره ورته ووايي ښايي درنښت دي لمنځه ولاړسي اوددين د نقص لامل به سی ( کچيري اړتیا ورته پیداسي دداسي کسانو لخوا ترسره سي چي ستا تراثر لاندي وي نو یویادوه ځله داکار وکړه ترڅوخلګ ستا زيار په دين کښي اوحرص په امربالمعرف ووينی کله چي دي داکاروکړی خلګو ستا هڅي اوزيا روليدی او بيا دي دپاچا څخه هغه کړنه وليده نو یوازي کورته ورسه ديني اومذهبی خبری ورته وکړه که بدعت کوونکی وو مناظره ورسره وکړه او که پاچا وودالله ﷻ اورسول الله ﷺ ويناوي ورته بيان کړه که بيې ومانه خوښه که بيې ونه مانه دالله ﷻ څخه وغواړه چي دظالم څخه دي وساتي.

**اته شپیتم**: مرګ په يادلره د استاذانولپاره مغفرة (بخښنه) دڅښتن تعالی ﷻ څخه غواړه اودهغه چا لپاره (مغفرة غواړه) چي دين دي ځيني لاسته کړی وي.

**نه شپیتم**: دقرآن تلاوت تل کوه.

**اویایم**: زیارت دقبرونو،بزرګانو اوسپېڅلو ځایونوډيرکوه.

**یواویایم**: دعاموخلګوسره چي په مسجدونو ،سپېڅلو ځایونو او اوهديرو کښي مخ سی دوی د رسول الله ﷺ اونیکوخلګوپه خوب ليدل درته بيان کړي درست يې بوله.

**دواویایم**: ددين اوسمي لاري د دعوت پرته دناسموخلګوسره مه کښينه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**درو اویایم** : ډیرلعنت ویل او ښکنځل کول مه کوه.

**څلوراویایم** : مؤذن چي اذان وکړي دمسجدتللوتیاري کوه ددې لپاره چي عام خلگ ستا مخکي ولاړنسي.

**پنځه اویایم**:دپاچا په همسایتوب کښې سرای مه جوړوه.

**شپږاویایم** : که دی دهمسایه څخه (ناسم کار) ولیدی پټ ئی کړه ځکه چی داستا سره امانت دی ، اودنورو خلگوپټ احوال مه ښکاره کوه.

**اوه اویایم** : که څوک (په یوکارکي مشوره درڅخه وغواړي نو مشوره ورکوه څومره چی پوهیږی ځکه دغه کاردی الله ﷻ ته نژدی کوی ، زما دغه وصیت ومنه ددنیا اواخرت لپاره دي گټه ده انشآءالله تعالی.

**اته اویایم** :دبخله څخه ځان وساته ځکه بخل دي دخلگوپه وړاندي رسوا کوي.

**نهه اویایم** : طمعه کوونکی مه اوسه مه درواغ وایه مه په خبروکښي دخلگوسره گډیږه بلکي په ټولو کارونوکښي خپله میړانه وساته.

**اتیایم** : هروخت سپیني جامې اغونده.

**یواتیایم** : دشتمن زړه څښتن اوسه دځان له (لوري )څخه لږ حرص ښیه اولږ مینه ددنیا سره دځان شتمنی ښکاره کوه مسکنت مه ښکاره کوه که څه هم مسکین یې.

(c) kerabton.com: The Digital Library


**دوا تيايم** : همتناكه اوسه ځكه د چا چي همت ټيټ وي مقام يې هم ټيټ وي .

**درو اتيايم** : كله چي پرلاري ځي چپه اوراسته لوري ته مه گوره بلكي مخكي ته گوره .

**څلوراتيايم** : كله چي حمام ته ورسي دعاموخلگوسره په ناستي ځاى اوپيسو وركولو كښې ځان مه برابروه بلكي تردوى زياتي پيسې وركړه ترڅوستا ميړانه ښكاره سي اودوى به دي درنښت وكړي .

**پنځه اتيايم** : مال ، سامان، اوجامى خپل دي اودصنعت كارونه خپله مه كوه بلكي يوباورلرونكى سړى ته يې وسپاره .

**شپږ اتيايم** : دخلگوځخه (نامشروع ) محصول مه اخله .(١)

**اوه اتيايم** : دراهم (پيسې ) خپله مه تله (يعنى مه يې حسابه ) بلكي پريوبل (باورلرونكي ) سړى باندي باوركوه.

**اته اتيايم** : ددنيا سپكاوى كوه(هغه دنيا ) چي دعلماؤ په آند سپكه ده ځكه الله ﷻ ته (علماء ) تردنيا غوره دي .

**نهه اتيايم** : خپل ( دنياوي )كارونه بل چاته سپاره ځوپرعلم ښه بر لاسى واوسي داسې كړنه دي عزت ساتى .

---

( ١ ) ددغه محصول څخه موخه مكس دى مكس دجاهلية په وخت كي يوخاص نامشروع دود وو چي اوس له منځه تللى دى .

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نوی یم** : دلیونیانوسره خبري مه کوه مه دهغه خلگوسره خبري کوه چي دمناظرې په اصولو اودلیل نه پوهیږي اویا لته دمقام کوي «علمي فائده یې هدف نوي» بلکي د مسائلوپه بیان دي ډوبوي اوعزت دي لمنځه وړي اوستا «دعزت» پروا نکوي که څه هم په دې و پوهیږي چي ته پرحق یې.

**یونوییم** : کله چی داسي خلگوته ورسي چي پرتالوړوي نوپردوی ځان لوړمه بوله ترڅودوی دي لوړونه ګڼي ددې لپاره چي ددوی څخه تاوان درته متوجه نسي.

**دونوی یم** : که په یوقوم کښي اوسیږی ترهغه په لمانځه کښي مه مخکی کیږه ترڅودوی دي دعزت په ډول مخکي نه کړي.

**درونوی یم** : دغرمې اوسهار وختي پرته حمام ته مه ځه اومه دعامو خلگودتفریح ځایوته ورځه.

**څلورنوي یم** : په کومو ځایوکښي چي پاچهان ظلم کوي مه ورځه مگرهغه وخت که ستا په نصیحت یې دظلم څخه لاس اخستی ځکه که دوی ستا په وړاندي یوناروا کړنه ترسره کړي چي ته یې دمنعي توان نه لری ستا دچوپتیا له کبله خلگ فکر کوي چي داظلم یوجائزکاردی.

**پنځه نوی یم** : دعلم په مجلس کښي دقهر اوغصې څخه ځان وژغوره.

**شپږ نوی یم** : دعامو خلگو په وړاندي قصې مه کوه ځکه قصه کوونکي ته درواغ ویل اړین دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**اووه نوی یم** : که دي دیوعالم سره مجلس کول وغوښتل (یعني دهغه داستعداددمعلومولو په موخه) که مجلس دفقه وو خپله ورحاضرسه څومره چي دده (په استعداد) وپوهیدي بیان یې کړه که داسي نه وو نومه ورځه ددې لپاره چي خلگ ستا په ورتگ باندي دوکه نسي پر ده باندی به دیوداسي عالم گمان وکړي چي دی هغسی نوي.

**اته نوي یم** : که پورتني کس ددې صلاحیت درلودی چي خلگوته مذهبي فتواوي ورکړي نوخلگوته یې بیان کړه اوکه یې صلاحیت نه درلودی نوته مه کښینه چي ستا په وړاندي درس وکړي بلکي یواعتمادي سړی ورپرېږده ترڅوتاته دده دخبرو په ډول اودعلم په اندازه معلومات درکړي.

**نهه نوی یم** : دذکر ومجلسوته (چي غیرمشروع وي) مه حاضرېږه همداډول هغه مجلس ته (مه ورځه) چي ستا دعزت اوسپېڅلتیا په موخه دوعظ بلنه درکړي بلکی کلی وال واستوه چی باورپرې لري اویوشاگرد ورسره واستوه.

**سلم** : دنکاح دخطبې ویلو چاري دخپل کلي امام ته وسپاره همدا ډول دجنازې اواخترونو دلمنځونو امامت نوموړي امام ته وسپاره اوما په نیکودعاوو کښي مه هیروه دغه نصیحت قبول کړه ستا اودټولو مسلمانانو دمصلحت په موخه دغه نصیحت درته کوم.

دامام اعظم رحمة الله علیه نصیحت د قاضی القضاة امام ابویوسف رحمة الله تعالی علیه په نامه پاي ته ورسیدی.

.........

(c) ketabton.com: The Digital Library


# دامام ابوحنیفة رح وصیت خپل

# شاگردیوسف بن خالد رحمة الله تعالی علیه ته

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ۝١

کله چي یوسف بن خالدسمتي رح دامام ابوحنیفة (رحمة الله علیه) څخه دعلم زدکړه وکړه اوخپل ښار بصرې ته یې دتللواراده وکړه نوامام اعظم رح دتللواجازه ورکړه اوورته وي فرمایل : یووصیت دتحفې په ډول درته کوم چي دخلګوسره په ژوند کولو، دعلماؤدمرتبو په پیژندلو ، دځان په ادب کولو، ترلاس لاندی خلګوسره په ښه سلوک کولو اودعامواو خاصوخلګوسره په معامله کولو کښی ورته اړیی .

(دغه وصیت ) به تاته دپوهي ښودلوپرمهال یوه داسي آله وي چي دعلم سمون اوښکلاپه راځي اودمعیوب کولو څخه یې ژغوری. پوه سه که دي دخلګوسره ګذاره بده وي ټول خلګ به دي دښمنان وي که څه هم دي میندی اوپلرونه وي که دي دخلګوسره ګذاره ښه وي ټول به دي میندي اوپلرونه سي (یعنی دوستان او خواخوږي به سي ) که څه هم قریبان دي نوي .

یوسف بن خالد رح فرمایي : امام اعظم (رحمة الله علیه) راته وفرمایل ترهغه پورې صبر وکړه ترڅوټول وصیتونه په تفصیل سره په خپل فکردرته و کړم چي په پیژندلوسره به یې په خپل زړه کښي زما شکرګذاره سي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوسف رح فرمایي : کله چي دغه وخت تیرسو اودوصیت وعده یې وکړه په فارغ وخت کښي راته وفرمایل : زه تول هغه څه تاته ښکاره کوم چي تاته وړاندي کیږي گویا زه ستا سره مل یم کله چي بصرې ښارته ورسي هغه کسان چي زموږ مخالف دي ستالوري ته به متوجه سي که ته دخپل لوړعلم په مټ پردوی ځان لوړکړی او دخپل علم په زورددوی په وړاندی په فخرسره ویناکوی پایله به یې داوي چي ددوی سره به دناستی ولاړی او دگډ ژوند څخه به خلاص سي ته به ددوی مخالفت کوي دوی به ستا مخالفت کوي ته به ددوی سره اړیکي شکوي دوی به ستاسره اړیکي شکوي دوی به تاته بد وایي ته به دوی ته بدوایي دوی به تا بد لاری ښیی ته به دوی بدلاري ښیی ستا ولوري ته به دنامشروع لاری نسبت کوی په نتیجه کښي به دواړه بدنامه سی آخربه ددې ځایه څخه وتللوته اړسي داسي کړنه زما نه ده خوښه ځکه هغه کسان هوښیاران ندي چي گذاره نکوی اوگذاره کولوته اړوي مگر چي الله ﷻ ورته دوتلوځای پرانیزی.

کله چي بصرې ته ورسي خلگ به دي ښه راغلاست وکړي ملاقات به دي وکړي ستاحق به وپیژني نوته دهرسړی مقام وپیژنه دشریفوخلگوعزت وکړه اودعلماؤدرنښت وکړه دسپین ږیرو احترام وکړه دځوانانوسره نرمي وکړه دعاموخلگوسره نژدې اوسه دناسموخلگوسره خواخوږي وکړه دغوره خلگوسره ملگري وکړه پاچا (آمر) په بدنامه مه یادوه دهیچا سپکاوی مکوه دچا په اندیوالی باورمه کوه ترڅوچي دي ازمویلی نوي دکم همته خسیس

(c) ketabton.com: The Digital Library


سړي سره اشنايي مه کوه کوم شی چي په ښکاره درته ناسم ښکاره سو مينه مه ورسره کوه . دبي عقلانوسره ازاد ژوند مه کوه دميلمستيادعوت اوهديه مه قبلوه ( يعني چي شرعي عذر موجود وي ) گذاره اوصبرکوه بردباره اوسه دښوا خلاقو ځښتن اوسه پراخه سينه لره نوي جامې اغونده دسوارلۍ لپاره ښه حيوان غوره کوه خوشبويي (عطر) ډير استعمالوه خپل شخصي کارونه يوازي کوه دخادمانو اولاس لاندي کسانولټه کوه (بيايي ) تعقيبوه ددوی په ادب اوبرابري کښي وړاندي اوسه پدې لاره کښي دنرمۍ څخه کاراخله دډيري سزاڅخه کارمه اخله که نه نوبي نتيجې به سي (يعنی په خپله سزا مه ورکوه چی ستاعزت ته تاوان رسوی ) پرلمونځونو باندي پايبندي کوه خوراک ورکوه (يعنی سخاکوه ) ځکه بخيل سړی سالار نسي جوړيدای يوپټ مشاور لره چي دخلگوپه حالاتو دي خبروي ( دخبرتياپرمهال به دبدوکارنواصلاح وکړي ) نو کله چي دي فساد وليدی داصلاح لپاره يې تلوار کوه هرکله چي په اصلاح ( راوستلو) پوه سوي مينه (داصلاح سره) ډيره سي اوعزم به دي پياوړی سی.

ځوک که ستا سره ملاقات کوي که يې نه کوی خوته ملاقات ورسره کوه ځوک که نيکي درسره کوي که بدي درسره کوي خوته نيکي ورسره کوه عفوه(بخښنه ) کوه خلگوته په نيکۍ سره امر کوه دبي گټوشيانوڅخه ليري اوسه کوم شی چي تاوان دررسوي پريږده يې دحقوقو په برپايه کولو کښي تلوارکوه که دي دملگروڅخه ځوک ناروغه سي خپله پوښتنه پرکوه او د استاذو

(c) ketabton.com: The Digital Library


په ذریعه یې دصحت حال معلوموه که دي دملګروڅخه څوک ورک سي دحالاتولټه یې کوه که څوک ستا په وړاندي کښیني ته دده په وړاندي مه کښینه که څوک ظلم درسره وکړي ته وصیله ورسره کوه څوک چي درته راسی عزت یې کوه که څوک بد درسره وکړي ته بخښه ورته کوه که دي څوک په بدوالفاظویادکړي ته یې په ښو اوښائسته الفاظویادکړه که دي دملګروڅخه څوک مړسي «ستاپر زمه یې حق وي» حق یې ورکوه که چاته غم ورسیدی تسلي ورکوه که چاته تکلیف ورسیدی دغم شریکی. څرګندونه ورسره کوه که چا دیوکار کولو وړاندیز درته وکړی کار ور وکړه که چا په غم کښي دهمکاری غوښتنه درڅخه وکړه همکاري ورسره کوه دخلګوسره دخپلي دوستی. څرګندونه کوه څو چي ستا توان وي هرچاته سلام اچوه که څه هم چس خلګ وي که ستا اودنورو مجلس یوځای سو یاته دنورو سره یوځای سوي دمسائلو دبیان لړی پیل سوه اوددوی خبرنه ستا په آند صحیح نه وه «په تلوارسره خپله رایه مه ښکاره کوه.

که څوک «دیومسئلې» پوښتنه درڅخه وکړی په دودیزو الفاظو یې پوه کړه «یعنی په داسی ډول چي دوی په پوهیږي» وروسته نوره وینا «خبرینیزه برخه» ورته بیان کړه چي داسي اوداسي ده که ددوی څخه چا واوریدی «یعنی پوه سو» ستا مقام مرتبه او«دعلم» اندازه به دي ورته معلوم سي که چا اختلاف درسره کاوه یوډول نه یوډول پوهه ورکړه چي فکرپکښي ووهی خلګوته روښانه اوښکاره پوهه ښیه پټ اودقیق شیان مه ورته وایه مینه دخلګوسره کوه کله کله

(c) ketabton.com: The Digital Library



مزاق (ټوکی ټکالی) ورسره کوه خبري ورسره کوه څکه دغه شیان ستا دعلم لړۍ تل روانه ساتي کله کله خوراک ورسره کوه دبي کاروانسانانو څخه بي پروا اوسه دخلګو اړتیاوي پوره کوه نرمي باندی کوه ددوی پرنیمګړتیاووسترګی پټوه دسینې تنګوالی اولرې حوصله ددوی په وړاندی مه ښکاره کوه داسي اوسه لکه یو ددوی څخه دخلګوسره داسي معامله کوه لکه خپل ځان ته چي یې کوی کوم څه چي ځان ته خوښوي دوی ته هم هغه خوښوه پرخپل ځان باندي برلاسی دځان دنیمګړتیاوو دخلاصون په مټ کوه اوحالات یې څیړه اوشر پیداکونکي کارونه پرېږده که څوک زړه درته تنګوي ته زړه مه ورته تنګوه دهغه چا خبري اوره چي ستا خبري اوري خلګ وهغه شی ته مه اړباسه چي ته یې نه یې اړکړی دخلګو په هغه حال راضي اوسه چي دوی په راضي دي ښه نیت ورته څرګندوه په کارکښي ریښتنی اوسه کبر،لویي (دځان څخه) لیره کړه دچم اودوکې څخه ځان وژغوره که څه هم دوی دوکه درسره وکړي امانت ساته که څه هم خلګ خیانت درسره وکړي په وفا کښی ټینګ اوسه په تقوی اوپرهیزګاری باندی منګولی لګوه دنورودینونو دښتنانوسره وړاومناسب ژوند کوه.

امام اعظم (رحمة الله علیه) خپل شاګرد ته وفرمایل که دغه وصیتونه ټینګ کړي امیدلرم چي سالم به سي بیا یې ورته وویل ستا جلاوالی مي غموي ستا پیژندنه زما دمیني ذریعه ده دلیکنو دلاری اړیکی راسره ساته اوخپلي اړتیاوی دي راته ووایه ته ماته دزوی په څیرېې اوزه تاته دپلارپه څیریم.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# دامام اعظم وصیت خپل زوی حماد رحمة الله علیهما ته

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ﴿١﴾

اې زویه! الله ﷻ دي پر هدایت ثابت قدم لره (اوپه سپېڅلو کارونوکښي) دي الله ﷻ پیاوړی لره یوڅووصیتونه درته کوم که یې یاد ولري اوپاییندي پرې وکړي هیله لرم چي الله ﷻ به دي په دین اودنیا کښي نیکبخته کړي.ان شآء الله تعالی.

**لومړی وصیت** : تقوی غوره کړه (یعني دالله ﷻ څخه وویریږه) او خپل دبدن غړي دگناه څخه پاک ولره دالله ﷻ ټول امرونه برپایه (قائم) لره دغه ټول کارونه والله ﷻ ته دخالص عبادت په موخه دي.

**دوهم** : که دیوشی وپوهي ته اړیي ناپوه مه پاتیږه (یعنی دپوهی لټه یې کوه).

**دریم** : دهغه چاسره ژوند مه کوه چي دیني یا دنیاوي اړتیا ورته نه لري (یعنی دبې گټي سړی سره ملگري مه کوه).

**څلورم** : دنورو سره انصاف کوه دخپل ځان لپاره داړتیا پرته انصاف مه غواړه.

**پنځم** : دمسلمان اوکافردواړوسره دښمني مه کوه (یعنی هغه کافر چي دریښتنی اسلامي هیواد تابعیت یې داسلام داصولوسره ترلاسه کړی وي یاپه بل عبارت زمي وي).

**شپږم** : صبراوقناعت پرهغه مال اومقام کوه چی الله ﷻ درکړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**اوم** : (په مالي اونوروچاروکښي ) خپل تدبیر(کړنلاره ) ښکلی لره ترڅودنورو خلګودارتیاڅخه خلاص سي.

**اتم** : دخلګوپه سترګوکښي ځان سپک مه ښکاره کوه.

**نهم** :دبې ګټو خبرو اوکاروڅخه ځان بیل کړه.

**لسم** : دخلګوسره چي یوځای سي لومړی سلام وراچوه غوره خبري ورسره کوه دغوره خلګوسره مینه کوه دشراچوونکو خلګو ګذاره (دلداری ) کوه.

**یوولسم** : دالله ﷻ عبادت ډیرکوه ذکراودرود پرنبي ﷺ باندي ډیروایه.

**دوولسم** : په سید الاستغفاربوخت اوسه چي درسول الله ﷺ ددې قول څخه عبارت دی :

اللهم انت ربی لااله انت خلقتنی وانا عبدک وانا علی عهدک ووعدک مااستطعت اعوذ بک من شرماصنعت ابوء لک بنعمتک علی وابوء بذنبی فاغفر لی فانه لایغفرالذنوب الاانت.

(دویلوګټی یې په لاندي ډول دي) که دغه پورتنی کلمې چا ماښام وویلی په داغه شپه مړسو جنت ته به داخل سي که چاسهار وویلي په داغه ورځ مړسوجنت ته به داخل سي.

دحضرت ابی درداء رضی الله عنه څخه روایت دی کله چی ده ته وویل سوه چي کوردي وسوځی ده مبارک وفرمایل: نه دی سوځلی ځکه ما درسول

(c) ketabton.com: The Digital Library


اللهﷺ ښخه اوريدلي دي چي که چا دغه (لانديني) کلمې دورځې په لومړۍ برخه کې وويلې ترماښامه به مصيبت (تکليف) نه ور ورسيږي که چا په آخر کي د ورځي وويلي ترسهاره به مصيبت نه ور ورسيږي.

(**کلمه مبارکه په لاندې ډول ده**):

اللهم انت ربی لااله الاانت علیک توکلت وانت رب العرش العظیم ماشاء الله کان وما لم یشاء لم یکن لاحول ولاقوة الابالله العلی العظیم اعلم ان الله علی کل شیئ قدیر وان الله قد احاط بکل شیئ علما اللهم انی اعوذ بک من شر نفسی ومن شر کل ذی شرومن شر کل دابة انت آخذ بناصیتها ان ربی علی صراط مستقیم..

**دیارلسم**: هره ورځ په پایبندۍ سره قرآن کریم لوله ثواب یې رسول اللهﷺ، موراوپلار، استاذانو اوټولومسلمانانو ته بخښه.

**څوارلسم**: دملګرو(دشرښخه) تردښمن ځان، ډیرساته ځکه په خلګوکښې فساد ډیردی نو تر اشنای دي دښمن تاته ګټمن دی (ځکه دښمن درښخه لیري دی اوداشنای سره لاس اوګریوان یي).

**پنځلسم**: پټ حالات، سره زر (یعنی مال)، کړنلاره اودتللوځای چاته مه ښیه.

**شپاړسم**:دهمسایه سره ښه سلوک کوه اوتکلیفونه ئی زغمه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**اوولسم** : داهل السنة والجماعة مذهب ټینګ ونیسه دناپوهانو اوګمراهانوڅخه لیري اوسه.

**اتلسم**: په ټولوکارونوکي دي نیت پاک کړه اودحلال خوارک زیاته لټه کوه.

**نولسم** : په پنځو حدیثونو عمل وکړه چي ما دپنځولکو حدیثونوڅخه راټول کړي دي ، لومړی حدیث دادی چي رسول اللهﷺ فرمایي : ټول عملونه په نیت پوري اړه لري هرسړی لره هغه څه دي چي نیت یې کړی وي.

دوهم حدیث دادی : رسول اللهﷺ فرمایي : ښه کارسړی لره دادی چی بې ګټې کارپریږدی.

دریم حدیث دادی : رسول اللهﷺ فرمایي : مؤمن به نسی یوستاسوڅخه تر هغه وخته پوري چي خوښ کړی خپل ورورته هغه څه چي ځان ته یې خوښوي.

څلورم حدیث دادی : رسول اللهﷺ فرمایی : حلال ښکاره دي حرام ښکاره دي ددوی په منځ کښي مشکوک شیان دي چي ډیرخلګ یې نه پیژني نوکه چا دمشکوکوشیانوڅخه ځان وساتی دخپل دین عزت اوسپېڅلتیا یې وساتل که څوک په مشکوکوشیانو کښي ولویدی په حراموکښي ولویدی لکه شپانه چي دتاکلی کرښي (دمنعي حدود ) په شاوخوا کښی پسونه څروی نژدې دی چي پکښي ولویږي خبردار اوسی هرپاچا لره ټاکلی کرښي سته دالله ﷻ ټاکلی کرښی (دمنعی حدود) حرام شیان دي خبراوسی په بدن کښي

(c) ketabton.com: The Digital Library


يوه ټوټه غوښه ده كه اصلاح سي ټول بدن به اصلاح سي كه فاسده سي ټول بدن به فاسد سي هغه زړه دى.

پنځم حديث دادى : رسول اللهﷺ فرمايي : كامل مسلمان هغه څوک دى چي دژبي اولاس (دتاوان) څخه يې خلګ په امن وي.

**شلم وصيت** : دصحت او جوړتياپه حال كښي (داللهﷻ څخه) د ويري اواميد په منځ كښي اوسه ( يعنى دجوړتيا پرمهال داللهﷻ ټول امرونه سرته رسوه اودنواهيوڅخه يې ځان ژغوره ) (دمرګ دراتلو پرمهال ) داسي مړسه چي پراللهﷻ دي ښه ګمان وي (يعني دمغفرت اوخلاصون دي ټينګ ګمان وي ) اودمغفرت اوبخښني هيله دي پياوړي وي (داسى اميد ) په سالم زړه كښي وي بېشكه اللهﷻ زيات بخښونكى اوزيات مهربان دى.

دامام اعظم رحمة الله عليه وصيت چى خپل زوى حماد رحمة الله عليه ته ئى كړى و.و پاى ته ورسيدى.

******

(c) ketabton.com: The Digital Library



# حضرت امام اعظم رحمة الله علیه دقضا په اړه دغه وصیت ونوح بن ابي عصمة رحمة الله علیه ته فرمایلی دی

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ﴿١﴾

## نحمده ونصلی علی رسوله الکریم

نوح بن ابي عصمة (رحمة الله علیه) فرمايي : ما دابوحنیفة رح څخه داحادیثودمعناوو زده کړي کولي ده مبارک ډیربښه تشریح اوتفسیرکاوه هم داډول ما دباریکومسائلو پوښتنه ځني کوله په عمومي ډول زماپوښتني دقضا دمسائلو او احکاموپه اړه وي امام اعظم (رحمة الله علیه) (یوه ورځ دوړاندوینا په ډول ) راته وفرمایل: ته به دقضا دروازه وټکوي (یعنی قاضی به سي ) نوح بن ابي عصمة فرمايي : کله چي زه خپل ښار مرو ته ولاړم دلږ وخت وروسته دستي په قضا اخته سوم امام اعظم(رحة الله علیه) لا ژوندی وو نوح بن ابي عصمة وایی (دقضاداخته کیدو وروسته) مي امام اعظم(رحمة الله علیه) ته یولیک ولیکی ددغه پیښي حال مي پکښی ولیکی اوعذرمی ورته ولیکی (یعنی داچي په خپله خوښه مي قضا نه کوله بلکي ورته اړسوم) امام اعظم (رحمة الله علیه) په جواب کښي ورته ولیکل: ستا لیک راورسیدی کوم څه چي دي پکښي لیکلی وه په هغه پوه سوم ستا وغاړی ته یولوی

(c) ketabton.com: The Digital Library


امانت درولویدی چي لوی، لوی خلگ ورته عاجزه دي ته داسي يې لکه غرق نودځان لپاره دوتلولارولتوه تقوی درته اړينه ده ځکه تقوی دټولوکارونوبرپایه کونکی ده دقیامت «دورځي د سختیو څخه» خلاصونکي ده اوساتنه دهري بلاڅخه ده اوپه تقوی سره به «د کار» ښه نتیجې ترلاسه کړي اللهﷻ دي مور ته دټولوکارونوښې نتیجیې رانصیب کړي اللهﷻ دي دخپلي خوښي دکارتوفیق راکړي بېشکه اللهﷻ اوریدونکی اونژدې دی . پوه سه «اې نوحه رح !» په بابونودقضا یوازي جیدعالم پوهیږي چي په اصولودعلم«یعنی قرآن ، احادیثو اوپه ویناوو داصحابوکراموپوه وي اودفکر اونظرخښتن وي اودتپلوتوان يې ولري . که یوه مسئله مشکله درته ښکاره سوه نودقرآن ، حدیث او اجماع په لوري هڅه وکړه که دي روښانه پکښي پیدا کړه عمل په وکړه که دي پیدا نه کړه نو نظائرو«یعنی قیاس » ته يې حواله کړه «دآیات ،حدیث ،قیاس » استشهاد پرې وکړه بیا عمل په هغه لاره وکړه چي «پورتنیو درو» اصولوته نژدې وي او ورته والی ورسره ولري دفکر اونظر دخښتنانو سره مشوره کوه ځکه په دوی کښې داسي څوک سته انشاءالله چي په هغه څه پوهيږي چي ته نه په پوهیږې . کله چي دوه دښمنان «یعنی مدعی اومدعی علیه » درته کښیناستل نو دکمزوري او زورور، دعزتمن اوبی عزته ترمنځ په ناسته ، توجه او خبروکښې توپیرمه کوه داسي کړنه مه کوه چي دعزتمن دعزت لامله درته طمعه پیداسي اوبې عزته دبې عزتی له امله ناامیده سي . کله چي مدعي اومدعي علیه ستا په وړاندي کښیني ترهغه

(c) ketabton.com: The Digital Library


وختـه یې پرېږده چې په ارامه شرم اوسام ځني پورته سي بيا په نرمۍ خبري ورسره وکړه اوپه خبرويې پوه کړه اودهریوه خبري تولي اوره تلوار مه پرې کوه پري یې ږده ترهغه وخته پوري چې خپلي خبري تولي خلاصي کړي مگر که یې بي ځایه خبري وکړي منعه یې کړه (اوددغه خبرو نه اړتیا) وروښیه. دزړه تنگۍ، قهر اوغم په حال کښي دقضا (فیصلې) مه کوه کله چې ستا دقضاحاجت اړتیا وي یاوږی یي قضا مه کوه دفکري بوختیا پرمهال قضامه کوه بلکي په داسي وخت کښي قضا وکړه چې زړه دي فارغ وي.

دقریبانو په منځ کي په تلوار سره قضا مه کوه بلکي ځومجلسوته یې معطله کړه ښایي دوی په خپل منځ کښي روغه (جوړجاړی) وکړي که یې ونه کړی نوفیصله وروکړه ترهغه وخته پرهیچا فیصله مه وباسه ترڅو دالزام تول ثبوتونه یې په لاس نوي درغلي اوشاهدي ورکونکی ته تلقین (په خبروکښی ښودنه) مه ورکوه. په خپل مجلس کښي چاته اشاره مه کوه وقریبانوته هیڅ کارمه سپاره (دقضا په وخت کښي) دهیچا میلمستیا مه قبلوه ځکه چې تهمت به دربانديي وویل سي (دخپلو دوستانو سره) دقضا په مجلس کښي خبری مه کوه. تقوی (ویره) دالله ﷻ ځخه غوره کړه ددنیا اواخرت دټولو کارونوبسنه درته کوي الله ﷻ به سلامتیا درنصیب کړي الله ﷻ دي موږ اوتاته ښه ژوند اوښه مقام په آخرت رانصیب کړي.

دامام اعظم (رحمة الله علیه) وصیت خپل شاگرد ابوعصمه نوح بن ابی مریم (رحمة الله علیه) ته پای ته ورسیدی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دامام اعظم (رحمة الله علیه) وصیت خپلو مخورو اومشهورو شاگردانوته

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ﴿١﴾

دامام ابویوسف (رحمة الله علیه) څخه روایت دی چي موږ یوڅوتنه دامام صاحب دشاگردانوڅخه دامام اعظم (رحمة الله علیه) په حضورکښي په یوه باراني ورځ کښي سره یوځای شو ددغه ملگروڅخه داؤد طائی ،عافیة الاودی ، قاسم بن معن مسعودي ، حفص بن غیاث النخعي ، وکیع بن الجراح، مالک بن مغول ، زفر بن الهذیل ، اوداسي نورکسان وه امام اعظم رح زموږ لوري ته متوجه سواو وي فرمایل: تاسوزما دزړه خوشحالي راوستونکي یاست اوزما دغم لیري کونکي یاست ماتاسوته دعلم کامهٔ ځین (دسوارلی) اوملونه جوړکړي دي که مو خوښه سوه باندي سپاره سی (یعني فقهي مسائلي مي  دربنودلی دی که موخوښه سوه عملي یې کړی اونوروته یې ورسوی) په داسي حال کي مي پرې ایښي یاست چي خلگ به ستاسوشاته ځي دالفاظو لټه به موکوي خپلي غاړي به تاسوته کښته کوي ستاسوڅخه هریودقضا صلاحیت لری په تاسوکي لس کسان دي چي قضا وکړي زه تاسوته سوال په الله ﷻ سره کوم (یعني الله ﷻ درته واسطه کوم) اوهغه لوي علم چي الله ﷻ تاسوته درکړی دی (واسطه کوم) چي د (پاچا) څخه دقضا د غوښتلودذلت څخه ځان وژغوری که په تاسوکښي د یوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښخه دقضا غوښتنه وسوه اوپه ده کښي يوه نيمگړتيا وه چي الله ﷻ دخلگوښخه پټه کړي وه قضا نده ورته روا (اووده لاري ښخه پيدا سوی) رزق ندی ورته حلال که يې پټ حالات دښکاره حالاتوپه څيروه (يعنی پټي نيمگړتياوی يې نه درلودي) قضا ورته روا ده (اووده لاري ښخه په لاس ورغلي) رزق ورته حلال دی که څوک دقضا و دندي ته داړتيا له مخی مجبورسي نودڅان اوخلگوترمنځ دي پرده نه ځړوی پنځه وخته دي لمونځ په جماعت سره (په مسجد) کښي اداکوی اودهرلمانځه پروخت دي (پدې ډول) ناره وکړي څوک حاجت لری ؟ (زما سره ملاقات کولای سي) اودماخستن په لمانځه کښي درې واره دغه ناره کوه بيا کورته ځه که څوک مريض سو دقضا په ځای کښي يې دکښيناستلوتوان نه درلودی دمريضۍ دورځوتنخوا (معاش) دی د (بيت المال ښخه) نه اخلي که امام المسلمين (آمر) چم وکړی (يعنی په بيت المال کښي يې خيانت وکړی) يائی په ظلم سره فيصله وکړه امامت يې باطل دی اوحکم يې دمنلووړندی که يې په ډاگه اوښکاره گناه وکړه (د حد شرعی سزا ورکول باندی واجب ده) هغه نژدې قاضي دي حد باندي قائم کړي.

تمت بالخيروصية الامام الاعظم (رحمة الله عليه) لکبارتلاميذه.

دامام اعظم (رحمة الله عليه) وصيت خپلومخورو شاگردانو ته پای ته ورسيدی.

کتبه العبدالافقرالی الله الغنی مولوی عبدالهادی (حماد)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د امام اعظم رح وصیتونه

تالیف
مولانا عاشق الهی شهر بلندی

ژباړونکی
مولوی عبدالهادی (حماد)

احمد شاهی کتبخانه
کابل بازار کندهار
تیلفون :0700321479

د تعلیم الاسلام راډیو ویب پاڼې له خوا :
www.Taleemulislam-Radio.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**